# يقينا چې حلال څرګند او حرام څرګند دي

د ابو عبدالله نعمان بن بشير رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل، چې فرمايل يې: "يقينا چې حلال څرګند او حرام څرګند دي، او ددې دواړو تر منځه هغه چارې دي چې حلال او حرام يې څرګند ندی (شکي چارې دي) چې ډېری خلک پرې نه پوهېږي، نو چا چې لدې شکي چارو څخه ځان وساته په حقيقت کې هغه خپل دين او عزت وساته، او څوک چې پدې شکي چارو کې ښکېل شو هغه په حرامو کې ولوېد، لکه يو چوپان چې د فصل (پټي) خواوشا رمه څروي نو - هره شبهه - شوني ده چې ورګډه شي او پکې وخرېږي - خبردار اوسئ چې هر پادشاه د ځان لپاره منع شوي ځايونه لري چې هلته ورننوتل منع وي - نو خبردار اوسئ چې د الله تعالى منعه شوي ځايونه د هغه محارم دي؛ يعنې هغه کارونه چې هغه حرام کړي دي، خبردار اوسئ چې په بدن کې د (غوښې) يو ټوټه ده، که هغه روغه وه ټول بدن روغ دی، او که فاسده وه نو ټول بدن فاسد دی، خبردار اوسئ چې هغه زړه دی".

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د شیانو په اړه عمومي قاعده بیان کړې ده، چې په شريعت کې - شيان - په درېو برخو وېشل شوي دي: ښکاره حلال، ښکاره حرام او مشکوک شيان چې د حلال او يا حرام حکم يې څرګند ندی، او ډېری خلک يې له حکم څخه ناخبره دي. نو چا چې هغه مشکوک شيان پرېښودل، له حرامو څخه په لرې پاتې کېدلو سره يې دين وساتل شو، او ابرو او عزت يې هم د خلکو له خبرو څخه خوندي پاتې شو، ځکه چې له هغه څه نه يې ځان ساتلی چې کول يې خلک عيب ګڼي. او څوک چې له مشکوکو کارونو څخه ډډه ونکړي، نو يا خو به په حرامو کې واقع شي، او يا دا چې عزت به يې د خلکو له خبرو څخه خوندي پاتې نه شي. او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه چا بېلګه بيان کړه چې شکمن کارونه کوي چې مثال يې د هغه چوپان په څېر دی چې خپله رمه د يو چا د ساتل شوي فصل خواوشا څروي، نو شوني ده چې رمه په نوموړي کرونده ورګډه شي، ځکه چې ورته نږدې ده، نو همدا مثال د هغه چا دی چې شکمن کارونه کوي، ځکه هغه پدې سره حرامو ته نږدې کيږي نو شوني ده چې په حرامو کې واقع شي. وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې (د انسان) په بدن کې د غوښې يو ټوټه ده (چې هغه زړه دی) په روغ پاتې کېدلو سره يې بدن روغ وي او په فاسد کېدلو سره يې فاسديږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66515

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee